# د ټيګور او غني خان د فکر او اسلوب مماثلتونه

# The commonalities in the thoughts and diction of Tagore and Ghani Khan

ډاکټر اسماعيل ګوهر*

**Abstract:**

Noble Prize laureate poet Rabindra Nath Tagore established an educational institute namely Santi Niketen in Calcutta India. Renowned Pashto poet Ghani Khan also studied journalism in this institute. In the mean time he got admission also in the school of Art at Santi Niketen, Where he learnt painting and the skill of statues making and sculpturers. He was very much inspired and moved by impressive educational environment and ideal discipline of Santi Niketen. Ghani Khan was a great lover of Tagore thoughts and philosophy.There are several similitudes of style and thoughts in the poetry of both the great poets Tagore and Ghani Khan. Both of them believe in a lover-Beloved relation ship between Almighty and the human being. Both of them directly address and conversate God and call him as friend with love. As such a unique concept of God is found in their poetry which is based upon emotional love. It is very interesting that both of the great poets have to great extened similar feelings, spiritual experiences and an affectionate behavior towards God inspite of differences of language,culture and religion. In this article the poetry of both the poets have been compared with special reference to their concept of God and cordial love for him as well as other similar aspects.

د بنګالۍ ژبې نوموړی شاعر رابندرا ناتهـ ټيګور ( Rabindra Nath Tagore) د ايشياء اولنی شاعر دی چې د ادب د ټولو نه لوئې انعام (نوبل پرائيز) ورته ورکړی شوی دی. هغه په 7 مئی 1861ء کلکته کښې پيدا شوی ؤ او په 7 اګست 1941ء وفات شوی ؤ. د هغۀ د بنګالۍ سندرو مجموعه "ګيتان جلي" ده چې انګريزي ترجمه ئې ټيګور په خپله د Song Offerings په نوم کړې ده. په بنګالۍ ژبه کښې دا کتاب په کال 1910ء کښې چاپ شوی ؤ او انګريزي ترجمه ئې د انډيا آفس سوسائټي لندن له خوا په کال 1912ء کښې چاپ شوې وه او په کال 1913 ء کښې ورته په دې کتاب نوبل انعام ورکړی شوی ؤ.

* Faculty Member, Department of Pashto, International Islamic University Islamabad

ټیګور د کلکتې نه سل میله لرې په بولپور کښې یوه مدرسه د شانتي نکیتن ‹د امن کور› په نوم پرانستې وه چې وروستو ئې د کالج او بیا په کال1921ء کښې د وِشوا بهارتي یونیورستۍ په نوم د بین الاقوامي یونیورستۍ درجه اوموندہ.

د پښتو نوموړي شاعر غني خان څۀ موده په شانتي نکیتن کښې سبق وئیلی ؤ. غني خان چې په کومه زمانه کښې د جواهر لال نهرو ‹1964- 1989ء› په کور کښې اوسېدو نو هغۀ خپله لور اندرا پریسیا درشني ‹1974- 1917ء› چې په اندرا ګاندهي مشهوره ده،چې ورستودوه ځله د هندوستان وزیر اعظمه پاتې شوې وه،او غني خان یو ځای په شانتي نکیتن کښې د جرنلزم د تعلیم د پاره داخل کړل. غني خان د تعلیم سره سره د آرټ سره هم ډېره مینه لرله او ددې ادارې په آرټ سکول کښې ئې هم داخله واخېسته. هغۀ د رام کنکار او نند لال بوس غوندې د هند د مشهورو فنکارانو نه د مصورۍ او مجسمه سازۍ زده کړه کوله په کال1934ء کښې چې د هغۀ پلار عبدالغفار خان ‹باچا خان› شانتي نکیتن ته لاړو او مجسمه سازۍ سره ئې د هغۀ ډېره مینه اولیده نو هغه ئې  له دغې ادارې نه د وښکلو فیصله وکړه. مهاتما ګاندهي(1948-1869) د باچا خان دغه فیصله د غني خان د پاره ښۀ نۀ ګڼله او د آرټ سکول د پرنسپل نند لال بوس په ذریعه ئې باچا خان ته سفارش اوکړو چې غني خان دې په شانتي نکیتن کښې تعلیم مکمل کړي خو باچا خان د اتو میاشتو د نیمګړي تعلیم نه پس هغه له دغه ځایه رابهر کړو. د امتیاز احمد صاحبزاده دا رائې ډېره صحیح ده:

دغه ځای نه د هغۀ راایستل د هندوستان د فن دنیا ته لوئې نقصان ګڼلی کېدۀ . ځکه چې  دغلته تر لرې مودې د پاتې کېدو باوجود غني خان د خپل غیر معمولي صلاحیت غټ ثبوت پېش کړی ؤ"‹1›

غني خان صرف اتۀ میاشتې په شانتي نکیتن کښې تېرې کړې وې خو ددې ځای تعلیمي او تهذیبي ماحول د هغۀ په شخصیت ډېر اثرات مرتب کړي وو۔ هغۀ د خپل کور نوم هم د شانتي نکیتن د ترجمې په صورت کښې "دارالامان" ایښی ؤ. د شانتي نکیتن د اثراتو په حقله غني خان په خپله وائي:

شانتي نکیتن مدرسه کښې ما خپل ځان اوپېژندو او د خپل تهذیب او د ثقافت هاغه تېر شوی عظمت راته معلوم شو چې د همه ګیر او غیر معمولي ذهن داسې

کسان ئې پیدا کړي دي د چا چې د مغرب مورخینو او علماؤ ستائینه کړې ده"(2).

د غني خان په تخلیقي فکر هم د ټیګور د فکر او شعري اسلوب اثرات پرېوتي دي. دواړه شاعران خدای پاک سره نېغ په نېغه ګفتګو کوي او خدای پاک ته خپل ملګرى او جانان وائي. دواړه شاعران زیات تر د نغمې او موسیقۍ او د هغې د لوازماتو په ذریعه خپل شاعرانه خیال وړاندې کوي. ټیګور موسیقۍ او د هغې د لوازماتو د پاره دا لفظونه په خپل کلام کښې زیات استعمال کړي دي: Music,Flute,Songs,Rhythm,Tunen,Melodies وغیره او غني خان ساز، شړنګ، ستار، رباب، سُر، سرود او تال وغیره چرته په عامو لغوي معنو کښې او چرته په نوو مرادي معنو کښې استعمال کړي دي. په دې مقاله کښې زهٔ صرف خدای پاک ته د جانان وئېلو په حواله د دواړه شاعرانو د فکر او اسلوب په مماثلت خپله مطالعه وړاندې کوم.

ټیګور د برهمنو د پیرالي خاندان څخه ؤ او مذهبي عقیده ئې د اُپنشدونو د تعلیم په بنیاد ولاړه وه. علامه سید عقیل الغروي د پیرالي طبقې په حقله لیکي:

"ٹیگور جس نسل سے تعلق رکھتا ہے اُس نسل میں برہمنیت کے ویدانتی فلسفہ پر اسلام کی شفاف، خالص اور زندگی بخش توحید کا بھرپور پرتو بھی پڑ چکا تھا۔ اسی لیے اُسے پیر علی کے نام سے موسوم کیا جاتا ہے۔ (3)

ترجمه: (ټیګور چې د کوم نسل سره تعلق لرلو په هغه نسل کښې د برهمنیت په ویدانتي فلسفه باندې د اسلام صفا، خالص او د ژوند بخښونکي توحید ښهٔ پوره ځلا پرېوتې وه نو ځکه پیرعلي (پیرالي) په نوم یادیږي).

د ټیګور تربیت په مذهبي بنیادونو شوی ؤ. دهغهٔ په ژوند د هغهٔ د پلار دیبندرا ناتهـ ټیګور(Debendra Nath Tagore) د فکر او فلسفې ډېر اثرات وو. د هغهٔ پلار یو معروفه فلسفي لیکوال، مذهبي مصلح او د برهمو سماج پوخ مرستیال ؤ. هغه به عبادت د پاره د همالې تر غرونو تلو او ټیګور به هم ورسره ؤ. او څو څو ورځې به په عبادت کښې بوخت وو او ځکه ورته مها رِشي (لوئې عابد) وئېلی شول. د آئر لېنډ معروفه شاعر او ډرامه نګار ولیم بټلر ایټس(William Butler Yeats) په ګیتان جلي په خپله تبصره کښې د ټیګور او د هغهٔ د پلار د خدای په ذات د غور او فکر او د استغراق په حقله د هندوستاني ملګري دا خبرې نقل کړې دي:

"Every morning at three, I know, for I have seen" One said to me," He sets immoveable in contemplation, and for two hours does not awake from his reverie upon the nature of GOD. His father, the Maha Rishi would some time sat their all through the next day; Once, upon a river he fell into contemplation because of the beauty of the landscape , and the rowers waited for eight hours before they could continue their journey.(4)

ترجمه: (زۀ ددې خبر چشم دید ګواه یم چې ټیګورهره ورځ سحر وختي درې بجې مراقبه کښې کښېني او غلی ساکت ناست وي. او دوه ګهنټې د خدای په ذات غور او فکر کښې ډوب وي. د هغۀ پلار لوئې ریشی کله کله ټوله ورځ په دغسې حال کښې مستغرق ناست وي. یو ځل کشتۍ کښې د سفر په دوران کښې د یو منظر ښائېست په هغۀ داسې اثر اوکړو او داسې کیفیت پرې راغی چې د فکر په جهان کښې ورک شو. او کشتۍ چلؤنکو خپل سفر جاري ساتلو د پاره اتۀ ګهنټې انتظار اوکړو).

ولیم بټلر ایټس د ټیګور د ورور و جیندرا ناتهـ(Diwjendra Nath) د مذهبي استغراق په حقله هم دغسې معلومات وړاندې کړي دي اولیکلي یې دي:

… And Dwijendra Nath, Rabindra Nath,s brother, who is a great philosopher, the squirrelf come from the boughs and climbed on to his knees and the birds alight upon his hands. (5)

ترجمه: (دیو جیندرا ناتهـ چې درابندرا ناتهـ ټیګور ورور دی یو لوئې فلسفي دی. د هغۀ د استغراق دا کیفیت ؤ چې څۀ وخت به د فکر په حال کښې ؤ نو د وونو نولي به د څانګو نه راکوز شول او د هغۀ په زنګونانو به کښېناستل او مرغۍ به هم په هغۀ کښېناستې).

ددې نه واضحه کېږي چې ټیګور او د هغۀ ټول خاندان په عملي طور خپل مذهب کښې ډېر مستغرق ؤ. د ټیګور دګیتانجلي ټول نظمونه هاغه روحاني افکار دي چې ټیګور ورته د خپل روح اوازونه او د روح عبادتونه وئیلي دي. د اسلامي فلسفې د اثراتو سره سره ټیګور نورې هم ګڼې مذهبي فلسفې لوستې او جذب کړې وې. هغۀ د هر مذهب نه د انسان د خیر ښېګړې، همدردۍ او رواداری فکر اخیستی او په خپل ژوند او په خپل تخلیقي فکر کښې ئې نغښتی ؤ. شېخ عقیل احمد (6) د اُپنشد او بدهـ مذهب د تعلیماتو سره سره د ټیګور په شاعرۍ د ویشنو مت د فلسفې د اثراتو او د کبیر د فلسفې او تعلیماتو

داثراتو هم ذکر هم کړی دی. د کومې په سبب چې د هغهٔ په شاعرۍ کښې د سوز او ګداز کیفیت او د مینې بې پایانه جذبه موندی شي.

ولیم بټلر ایټس چا چې په مغرب کښې د ټیګور د متعارفه کولو په لړکښې ډېر کار کړی دی، په انګلستان کښې په یو محفل کښې چې د هاغه وخت نوموړي شاعران، ادیبان، نقادان او فنکاران پکښې شامل وو په دې الفاظو کښې د ټیګور د شاعرۍ پېژندګلي کړې وه او په یوه جُمله کښې ئې د هغهٔ د کلام مغز ښودلی ؤ.

In all his poems,there is one single theme: the love of God.(7)

ترجمه: ((د هغهٔ په نظمونو کښې بس یو مرکزي خیال دی او هغه خدای سره مینه ده)).

ټیګور مذهبي مفکر ؤ خو د خپل مذهب د تبلیغ په ځای د مذهبي رواداری قائل ؤ اود کُلهم انسانیت دښېګړې د پاره ئې خپل صلاحیتونه وقف کړي وو. په یو قادرِ مطلق د پوخ یقین سره هغهٔ په خپلو نظمونو کښې نېغ په نېغه خپل خالق سره خبرې کړې دي. د هغهٔ د ګیتانجلي ۱۰۳ نظمونه چې ټیګور ورته نغمې اوسندرې وایي، یو قسم له حمدیه نظمونه یا مُناجات دي. د خدای په دربار کښې خپلې دا سندرې هغه ډېرې عاجزۍ، مخلصانه بندګۍ او یو خاص قسم مسکینۍ سره وړاندې کوي. د بندګۍ او مینې په بې شانه جذبه کښې خدای پاک ته خپل جانان وائي. لکه په خپله دویمه سندره کښې وائي:

Drunk with the joy of singing I forget my self and call the friend who art my lord. (8)

منظومه ترجمه:

چې ستا سندرې وایم داسې مستغرق شمه زهٔ
د ځانه ورک شم خبر نهٔ یم چرته تګ کومه
اُف دغه حال د سرمستۍ چې تهٔ مالک ئې زما
وایم جانان مې تهٔ ئې ځکه درته غږ کومه

سندره نمبر 23 کښې هم خدای د خپل ملګري په نامه یادوي:

Art thou abroad on this stormy night on thy journey of love,my friend. The sky groans like one is despire. (9)

ترجمه:

جانه نن هم میني دې عزم د سفر کړی دی
په داسې شپه چې تورتمونه او طوفان داسې دی
لکه مات شوی د چا زړۀ دی فریادونه کوي
نن په سینه کښې د فلک آه و فغان داسې دی

سندره نمبر 77 کښې خدای ته خپل جانان هم وائي او د خپل د یو ورور په مثال ئې هم گڼي او وائي:

I stand not where thou comest down and ownest thyself as mine.there to clasp thee to my heart and take thee as my comrade.thou art the brother amongst my brothers.(10)

ترجمه:

چرته چې تۀ راشې او وایې راته ستا یمه زۀ
زۀ هلته نۀ یمه چې تاسره لیدل وکړمه
لکه جانان خپلې سینې پورې دې ونیسمه
دا بخت مې کله چې زۀ فخر په ځان خپل وکړمه
ورونړو کښې ورور خو مې یو تۀ ئې دا ایمان دی زما
ناڅیزه زړۀ په تا شیدا په تا قربان دی زما

دویشتم نمبر سندره کښې یو ځای دې لفظونو سره خدای ته خپل ملگری او خوږ جانان وائي:

Oh my only friend,my best beloved the gates are open in my house.do not pass by like a dream.(11)

ترجمه:

زما تنها جانانه
زړۀ ته نژدې جانانه
زما د کور دروازې
درته پرانستې لرم
تۀ د یو خوب په شانې
له مانه مۀ تېروځه

د ټيګور په کلام کښې داسې نور هم ډېر مثالونه دي. اوس دلته د غني خان په کلام کښې خدای ته د جانان وئېلو يو څو مثالونه ګورو. غني خان هم په خپل تخليقي کيف او کيفيت کښې ډېر ځايه خدای ته د جانان نوم سره غږ کوي دواړو شاعرانو څخه د تخاطب دا انداز يو شا ن دی. د ټيګور لهجه عجز،سوز،مينې او بندګۍ کښې غرقه ده. د غني خان په لهجه کښې يو شاعرانه ترنګ او مستي پرته ده. ټيګور څخه سوز دی،غني خان څخه ترنګ او شړنګ دی. د غني خان د نظم( څومره) اولنی شعر اوګورئ:

څومره مينه مستي درکړم ادب څومره
څومره تا دلدار جانان کړم ربه څومره "(12)

نظم" صحرا" کښې خدای ته وائي:

زۀ خوشحاله يم په هر څۀ چې کوې زما په ځان تۀ
عجيبه زما جانان ئې عجيبه زما ارمان تۀ

ولې ولې ربه ولې
ددې ولې جواب څۀ دی
څنګه څنګه ای جانانه
ازغی څۀ دی مضراب څۀ دی
ای د لوږې تندې ربه
ډک جام څۀ دی کباب څۀ دی"(13)

نظم " اسپتال" کښې وائي:

يا ئې که سمه جوړه او يا ئې ورانه که
يا دې دا خپل عاشقان ورک د دنيا نه که
دغه دعا قبوله مې ای جانانه که
يا ئې که سمه جوړه او يا ئې ورانه که (14)

د" حسېن" په مرثيه کښې حسېنؓ ته وائي:

بره مه ګوره حسېنه نن ستا خدای دی ستا جانان(15)

نظم "حساب کتاب" کښې د قسمت او تقدير په بحث کښې خداى ته داسې خواست کوي:

د مُســکو ســترګو جانانــه لــر د پښــو مــې کــړه دا پــړى
بيـــا مســـتي د خـــاورې ګـــوره او ټوپونـــه د آدم
کلـه شـړنګ د حـوا خـوا کښـې کلـه زيـر اوکلـه بـم
د تقدير کړى کړه سسته بيا زما ګډا تـه ګوره (16)

نظم "جنت او دنيا" کښې دوه ځايه خپل خالق د جانان په خوږ نوم يادوي:

کـه دا نـۀ کئـې اې جانانـه څربـې حُـورې دې سـنبال کـه
نـۀ مـې هغلتـه پکـار دي نـۀ مـې دلتـه کښـې يـادېږي
غټـې غټـې سـپينې سـپينې چـې نـۀ سـوال نـۀ منت غـواړي
ارتـې ېږتـې وږې سـترګې پـه بخملـو بـه لغړيـږي
ربـه! اې جانانـه ربـه دغـه يـو سـوال مـې منظـور کـه
ګنې لاړ غني دې مړ شو ورپسې ئې ژبى کېږي" (17)

يو څو نور مثالونه لنډ شان وړاندې کوم:

دريـــــاب د نُـــــور لاړو خيشـــــت او رڼـــــا لاړه
او د جانـــان مســـتي جانـــان لـــه بيـــا لاړه(18)

لېونيـــــه چـــــې مـــــونځ څـــــۀ دى
مـــــلا خـــــاورې ښـــــکلول دي
د جانـــــان کـــــوڅې لـــــه تلـــــل دي
د اميـــــد ارمـــــان کېـــــدل دي(19)

اې شـــــهيده! اې عاشـــــقه! اې بچيـــــه د منصـــــور!
په خندا جانان له لاړې ډوب درياب کښې شوې د نُور(20)

وې مســـتي دا زمـــا نـــۀ ده د جانـــان د ســـترګو نُـــور دى
زمـــا د خُلـــې خبـــرې هـــم تـــورات او هـــم زبـــور دى(21)

سـپرلی څـۀ دی جانـان مسـت شـوی دی
هـر سـاه او زړۀ کښـې خپـل نُـور خـوروي(22)

نـۀ شـم زغملـی نـۀ شـم منلـی
چـې تـۀ جـلاد ئـې او هـم جانـان ئـې(23)

د ټیگور د شاعرۍ د ټولو نه اهمه خوبي د هغۀ په سندرو کښې غنائیت او موسیقیت دی. هغه د موسیقۍ په رموزو هم ښۀ پوهېدو. د هغۀ مشر ورور وجیندرا ناتهـ (Dwijendra Nath ) هم شاعر او موسیقار ؤ. د دیوجیندرا ناتهـ یو ملګری چودهري اکشیا به بنګالۍ سندرې ډېر ښکلي ترنم کښې وئیلې او ټیګور د هغۀ ترنم ډېر خوښ ؤ. دهغۀ په اثر کښې ټیګور به هم ترنم کښې سندرې وئیلې د ټیګور ورور هغه د موسیقۍ د باریکیو سره هم اشنا کړو. د ورور نه د موسیقۍ د زده کړې نه پس هغۀ به په خپله هم نوي نوي سُرونه سازول. هغۀ د څلوېښتو کالو تر عمره کم و زیات درې زره سندرې لیکلې وې او د زیاتو سندرو موسیقي ئې هم په خپله ترتیب کړې وه. په کال 1911 ء کښې هغۀ خپله یوه ترانه په یوه جلسه کښې چې ترنم سره واؤروله نو دومره خوښه کړی شوه چې په لږو ورځو کښې کور په کور مشهوره شوه. ورستو ددې ترانې موسیقي ئې هم په خپله ترتیب کړه او 36 کاله پس په 15 اګست 1947 ء دغه ترانه د ټیګور موسیقۍ سره د هندوستان قومي ترانه اوګرځېده.

بنګالي ژبه پوهېدونکي وائي چې ټیګور خپل روحاني او متصوفانه افکار لکه د موسیقۍ په څپو کښې وړاندې کړي دي. د ګیتانجلي په ټولو 103 سندرو کښې په 48 سندرو کښې د نغمې او موسیقۍ په حواله سندره سر ته رسېدلې ده. په کلام کښې ئې نغمه،ترنم،تال،آهنګ، سُر.سُرود ،ساز،بانسرۍ او بربط لفظونه ډېر استعمال شوي دي. غني خان هم ستار،رباب، سریندۍ، ساز، سُر، تال او آهنګ وغیره چرته په لغوي معنو کښې استعمال کړي دي او چرته ئې استعاره کړي دي. هغۀ څخه ددې لفظونو استعمال دومره زیات دی چې د پنجرې چغار په ټولو 68 نظمونو کښې په 36 نظمونو کښې ترنم، موسیقي او د هغې لوازمات د نظمونو برخه ده. د موسیقۍ او د هغې د لوازماتو د استعمال په حواله

هم ټیګور او غني خان ډېر نږدې نږدې دي. دلته د دواړو د شاعرۍ نه یو څو مثالونه وړاندې کولی شي.

ټیګور د ګیتان جلي په اوویشتمه سندره کښې یو ځای وائي:

A moment,s flash of lightning drags down on my sight,and my heart gropes for the path to where the music of the night calls me.(24)

د نیمې شپې د خاموشۍ دغه پُرکیفه نغمه
د جستجو شوق ته مې داسې اوازونه کوي
په موسیقۍ کښې زۀ د شپې محسوسومه داسې
لکه سینې نه چې مې زړۀ څوک په لاسونو وړي

غني خان دا مضمون په "څوکه" نومې نظم کښې داسې بیانوي:

ورور ورو پټ مې په ځیګر کښې یو مهین ستار غږیږي
عجب ساز د خوشحالۍ دی لېونی ئې کړم سُرونو (25)

او یا په نظم "لټون" کښې وائي:

چپه چپتیا او خوشحالۍ کښې
شرنګ د ستار د تال مضمون ګورم
چاپېره رنګ کښې
په شنو کوترو کښې
ځان له جواب د خپل ژوندون ګورم (26)

د ټیګور د ګیتانجلۍ ددوه څلوېښتمې سندرې یوه برخه داسې ده:

In that shoreless ocean,at thy silently listening smile my songs would swell in melodies,free as waves,free from all bondage of words. (27)

ترجمه:

ددغه وخت په بې پایانه سمندر کښې ربه
زما نغمې به تولې وي ستا د مُسکا د پاره
چې دې مُسکا نرۍ نرۍ شي کله ما د پاره
خورې نغمې تولې نغمې مې فقط ستا د پاره

راګ د لفظونـــو نـــه ازاد بـــه پـــه یـــو شـــان وریـــږي
زمـــا د ســـاز نـــه بـــه نغمـــې لکـــه بـــاران وریـــږي

غني خان هم خپل ځان یو ساز، سُرور او شرنګ ګڼي. نظم ساز کښې وائي:

دا څۀ له ولې جوړ شوم
خبر نۀ یم نۀ پوهېږم
ولې سوز شوم
ولې ساز شوم
یو اواز یم چې غږېږم
د زړۀ پتهو تارخانو ته
یو شغله یم چې کوزېږم
یو سُرور یم چې شرنګېږم
یو خمار یم چې مستېږم
که د تال او شرنګ نه جوړه
یو دعا یم چې قبلېږم"(28)

موسیقي او هغې سره د تړلو لوازماتو دغسې اظهار نظم"یو جام" په دویم، دریم او څلورم بند کښې ډېر تسلسل سره شوی دی:

یو ګل یم رژېدلی
یو باغ سوزېدلی
یو ساز د ژړا یم
یو آه د بلبلې
یو راګ یمه خاموشه
نغمه یم فراموشه
ځواني مې په غم بائیله
مستي راؤړه بې هوشه

مست مست راکړه خوبونه
چې پټ پرې کړم غمونه
شروع کړه د ژوند تال ته

نازک د خپشت سُرونه
دلبر شه دلربا شه
یو جام جام راؤړه(29)

نغمه، ترنم، راګ،سُر، تال او آهنګ وغیره ددې دواړو شاعرانو په تخلیقي فکر کښې د معنې او مفهوم نوي نوي جهتونه پیدا کوي. نغمه او ترنم خو د ټیګور د شاعرۍ داسې بنیادي او د ټولو نه اهم عنصر دی چې هغه نۀ یواځې خپل ځان ته نغمه ګر وائي بلکې خدای پاک ته هم د خوږو نغمو خالق وائي او په خپله هم هغۀ سره د هغې په نغمه کښې د شاملېدو تمنا کوي او وایي:

My heart longs to join in thy song,but vainly struggles for a voice .I would speak but speech breaks not into song and I cry out baffled,Ah, thou hast made my heart captive in the endless mashes of thy music my master. (30)

ستا د خوږې نغمې په مخه دا ارمان مې عبث
چې په آهنګ کښې تاسره مې پیوستون غوندې شي
تابیا کوم چې تا سره سره نغمه ووایم
له ډېره عجزه دا تابیا مې بس جنون غوندې شي
مرحبا څومره همه ګیر دې دی تاثیر د نغمې
څۀ بختور یمه چې یمه ستا اسیر د نغمې

د ګیتان جلي په اوومه سندره کښې خپل خالق ته استاد الشعرا وائي او خپل ژوند ترې نه د یوې سُرنا په شان ساده باده غواړي:

O, Master poet I have sat down at thy feet.only let me make my life simple and straight, like a flute of reed for thee to fill my music. (31)

او ای استاد الشعرا ناست دې په پښو کښې یمه
زړۀ مې سندرې وائي تا لره او ستا له مخه
زۀ سادګي د یو ساده شانې سُرنا غواړمه
پکښې آهنګ چې د توحید وي ربه ستا غواړمه

ټیګور که نغمه، ترنم، بربط او بانسرۍ یادوي نو غني خان رباب،ستار او سرینده یادوي. چرته خپل ځان ستار یادوي،چرته انسان ته ستار وائي او چرته پوره انساني ژوند یو ساز ګڼي. د نظم حساب کتاب یو شعر کښې وائي:

بې مینې ژوندون دی لکه بې سُره ستار
ټنګ ترې نه وښکل د جنت حورو ته کنځل (32)

نظم "د بېنوا په نوم خط" کښې خپل ځان ستار حسابوي او د بېنوا د هر ټنګ سره هنګ کوي:

ستا د هر ټنګ سره هنګ کئي یو ستار دی بې بها
تۀ د نوي قندهار ئې ، دی د زوړ دی باشنده
ستا د هر سُره رپي یو شاتار ستا د رباب دی
نیم هوښیار نیم لېونی دی مړاوی شوی شان ګلاب دی"(33)

څۀ رنګ چې ټیګور نغمه خپلې بندګۍ او ایمان د پاره استعاره کوي نو غني خان هم سُر او سرود چرته مینې د پاره او چرته یوې جذبې، عقیدې او ایمان د پاره استعاره کوي. په خپله پنځلسمه سندره کښې ټېګور خدای پاک ته داسې مخاطب دی:

I am here to sing the song,in this hall of thine a have corner seat.In thy world I have no work to do, my useless life can only break out in tunes with out a purpose. (34)

ستا د وحدت نغمه وئیلو ته تنها ناست یمه
د کائنات په وسعتونو کښې یو ګوټ کښې غلی
دغه بې ربطه بې آهنګه ستا نغمې چې وائیم
ستا په خدائۍ کښې مې نور هیڅ نۀ دی څۀ کار نیولی
په دې خاموشه توره شپه کښې بیا او بیا چې وکړې
اجازت را چې زړۀ مې ستا ډېره ثنا چې اوکړې

غني خان د حقیقي عشق او مینې په حقله وائي:

عشق یو وجد د رب دی په وجدونو د انسان کښې
یو د مینې ساز د زړۀ په سوي قبرستان کښې(35)

نظم "د زنې خال "کښې ساز او سُرور ته نوې معنې اغوندي:

چې تا ځان سُرور له ورکړو نو زۀ ستا د زنې خال شوم
چې ستا خود د ساز لېوال شو زۀ سفرور شوم زۀ بلال شوم(36)

ټيګور د بانسرۍ خوږ اواز ته حېرانه دی او په خپله اولنۍ سندره کښې خدای پاک ته وائي:

This little flute of a reed thou hast carried over hills and dales, and hast breathed through it melodies eternally new. (37)

دغه د بانسو د ناڅيزه شان بانسرۍ له وجود
غرونو کښې داسې دې سندرې کړې خوږې پيدا
چې هر يو غږ ئې ښکلی ښکلی هر اهنګ يې ښکلی
د ترنم په هر اهنګ ئې کُل جهان شيدا

او غني خان د خاورې جوړ د انسان وجود ته په خپل نظم "ساز "کښې ستار وائي:

او دې د خاورو ستار کښې تا
څنګ د ابد قيصه جوړه کړه
او د يو شرنګ او ټنګ نه دې
ما له مستي نشه جوړه کړه(38)

ټيګور د انسان په ژوند کښې د نغمې او آهنک په کموت د افسوس اظهار کوي. په سندره نمبر 48 کښې وائي:

We sang no glad songs nor played, we went not to village for borter, we spoke not a word nor smiled, we lingered not on the way, we quickened our pave more and more as the time sped by.(39)

د خوشحالۍ نغمې مو اووې او نۀ لوبې وکړې
نۀ د کوم کلي په بازار کښې مو څۀ کار کړی دی
نۀ ګفتګو چا سره کړې نۀ ارام کړی دی
نۀ د خندا ټوقو ټقالو کاروبار کړی دی

دغسې هره ورځې تګ دی چې تېرېږي زما
خو کړاؤنه په دې لاره کښې زیاتیږي زما

غني خان په خپل نظم "سلام" کښې دغسې خیال د ساز او سوز په حواله وړاندې کوي:

نهٔ ساز شو نهٔ سوز شو
بس هسې ژوند تمام شو
نهٔ خوب شو نهٔ شرنګ شو
نهٔ یار ګل نهٔ اندام شو(40)

نظم" د تیارو غلام" درې شعرونه وګورئ:

ولې ماته ښائیست د هر سُر او تال
د غمونو دردونو اواز شولو

زما ژوند یو سلګۍ د شکست شوله
چې نهٔ سوز شولو او نهٔ ساز شولو

څکه ماله هر تال او سرور د ساز
د غمونو دردونو یو راز شولو (41)

ټیګور کلکته کښې اوسېدو خو د بنګال د اولسي ژوند سره ډېر نزدې پاتې شوی. رقص او موسیقي د بنګال د مزاج برخه ده نو ټنګ ټکور او ګډا د پښتنو د قومي مزاج اهمه برخه ده. ټیګور ته د نغمې د روح او د روح د نغمې شاعر وئیلی شوي دي نو غني خان د شرنګ او سرود شاعر دی. ټیګور څخه نغمه خپل یو نوی معنویت قائموي نو غني خان څخه ساز او شرنګ د مفهوم د نوي جهانونو درېچې پرانزي. د ټیګور سندرې د دردمندۍ او سوز په جامه کښې روحاني افکار دي نو د غني خان نظمونه د جمال او مستۍ په جامه کښې نغښتې فلسفه ده.

***

# حوالې

1. امتیاز احمد صاحبزاده، د ښائیست د لارې مسافر، (مترجم: پروفیسر ډاکټر یار محمد مغموم) یونیورسټي بُک ایجنسي پېښور، اګست2004 ص18

2. هم دغه، ص18

3-عقیل الغروی، سید، علامہ، "گیتانجلی ایک عظیم حمدیہ، مشمولہ گیتانجلی (مترجم: سید ظہیر عباس) پورب اکادمی اسلام آباد، 2005، ص4

4.William butler yeats, An Introduction,Gitanjali- Song Offering,Spiritual poems of Rabindra Nath. Tagore an e book presentation by the spiritual bee,www.spiritual bee.com

5. هم دغه، صفحه 9

6-عقیل احمد، شیخ، ادب اسطورہ اور آفاق، دہلی ویدک پریس، کیلاش نگر دہلی، 2009، صفحہ 69

7-ظہیر، انور، ٹیگور کی مغربی حوالے (مضمون مشمولہ) دستاویز، شعبہ اردو کلکتہ یونیورسٹی، مجلہ 7، مارچ 2012 ص44

8. Rabindra Nath Tagore,Gitanjali,www.ebookjagat.com,page-1

9. هم دغه، سندره23، صفحه 7

10. هم دغه، سندره77، صفحه 23

11. هم دغه، سندره22، صفحه 6

12. عبد الغني خان، خان، د غني کلیات، د قومونو او قبایلو وزارت، د نشراتو ریاست کابل، 1985 ،صفحه 8

13. هم دغه، صفحه 96

14. هم دغه، صفحه 297

15. هم دغه، صفحه 304

16. هم دغه، صفحه 319

17. هم دغه، صفحه 331

18. هم دغه، صفحه 452

19. هم دغه، صفحه 453

20. هم دغه، صفحه 456

21. هم دغه، صفحه 457

22. هم دغه، صفحه 37
23. هم دغه، صفحه 44
24. Rabindra Nath Tagore,Gitanjali,www.ebookjagat.com,page-8
25. د غني کليات، صفحه 280
26. هم دغه، صفحه274
27. Rabindra Nath Tagore,Gitanjali,www.ebookjagat.com,page-12
28. د غني کليات، صفحه 293
29. هم دغه، صفحه 597
30. Rabindra Nath Tagore,Gitanjali,www.ebookjagat.com,page-2
31. هم دغه، صفحه 2
32. د غني کليات، صفحه 19
33. هم دغه، صفحه 362
34. Rabindra Nath Tagore,Gitanjali,www.ebookjagat.com,page-5
35. د غني کليات، صفحه 449
36. هم دغه، صفحه 321
37. Rabindra Nath Tagore,Gitanjali,www.ebookjagat.com,page-1
38. د غني کليات، صفحه 491
39. Rabindra Nath agore,Gitanjali,www.ebookjagat.com,page14-
40. د غني کليات، صفحه 630
41. هم دغه، صفحه 324